د افغانستان اسلامي امارت
**د ارشـــــاد، حــــج او اوقافــــو وزارت**
**د مساجدو او حُسَينيو د ارشاد او انسجام لوی رياست**
دجُمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد
دمرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

**۱۶/ صفر المظفر/۱۴۴۸ هـ، ق مطابق ۹/ اسد/۱۴۰۵هـ، ش**

# د مسلمانانو تکليفول او يا ويرول سخته گناه ده ، چې له دې جملې څخه د پټاقيو استعمال هم ده، د اسلامي نظام دا مسئوليت ده چې عاملينو ته يې سنگينه او عبرتناکه سزا ورکړي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله نستعينه ونستهديه، ونستغفره ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا ، من يهده الله فلا مضل له ، ومن يضلل فلا هادي له ، ونشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، ونشهد أن محمداً عبده ورسوله، أرسله بين يدي الساعة بشيراً ونذيراً ، وداعياً إلى الله بإذنه وسراجاً منيراً ، فهدى الله به من الضلالة، وأرشد به من الغي، حيث بلغ الرسالة وأدى الأمانة، ونصح الأمة، وجاهد في الله حق جهاده، وعبد الله حتى أتاه اليقين من ربه، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (وَلاَ تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ).[۱]

**درنوحاضرينو!**

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

د اسلام مقدس هغه دين دی چې په دنيا کې هيڅ د فضيلت کار نشته مگر مسلمانان يې ورته هڅولي دي او په دنيا کې هيڅ شر نشته ، مگر مسلمانان يې ورڅخه منع کړي دي.

د اسلام سپيڅلی دين غواړي داسې ټولنه رامنځ ته کړي په کومه ټولنه کې چې انسان وکړی شي خوشحاله او پر سکونه ژوند وکړي ، داسې ټولنه چيرته چې د مسلمان ځان ، روح، عقل ، شعور، مال او عزت له هر ډول تيري څخه مصئون وي او څوک چې مسلمان ته تکليف ورسوي او يا هغه ته کوم ضرر ورسوي، نو د اسلامي نظام مسئوليت دی چې د ضرر عاملينو ته سنگينه او عبرتناکه سزا ورکړي، چې دداسې ټولنې تصور په هيڅ دين کې نه دی وړاندې شوی.

په دې وروستيو کې د ودونو، اخترونو او نورو مراسمو پر مهال د چاودېدونکو پټاقيو کارول زيات شوي دي. ډېر خلک دا يوازې تفريح گڼي، خو په حقيقت کې دا کار د ځان، ماشـومانو، گاونډيانو او ټولنې لپاره گڼ زيانونه لري.چې ځينې زيانونه يې په لاندې توگه دي:

---

[۱] - القصص: (۷۷)

**لومړی: دپټاقیو استعمال د ځان او نورو د زیان سبب ګرځي.**

پټاقي هر کال د ماشومانو، ځوانانو او نورو خلکو د سوځېدو، د سترګو د ړندېدو، د ګوتو د پرې کېدو او سختو ټپونو سبب ګرځي.

او الله جل جلاله ځانته او نورو ته له زیان رسولو څخه منع کړی ده.الله تعالی فرمایي:(وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ).(۲)

همدارنګه الله تعالی فرمایي:(وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا).(۳)

ترجمه: او مه وژنئ تاسې سره ځانونه خپل( یعني یو بل یا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاک سبب وي) بېشکه چې الله دی پر تاسې باندې ډېر مهربان.

امام ابن عطیه اندلسي رحمه الله ددې آیت په تفسیر کې لیکي:( المقصد بهذه الآية النهي عن أن يقتل بعض الناس بعضها ثم لفظها يتناول أن يقتل الرجل نفسه بقصد منه للقتل أو بأن يحملها على غرر ربما مات منه).(٤)

ژباړه: مقصد ددې آیت څخه نهی ددې کار څخه ده چې ځینې خلک دې ځینې نور ووژني . بیا لفظ ددې شامل دی دیته هم چې انسان خپل ځان په قصد د قتل ووژني او یا خپل نفس داسې خطر ته وړاندې کړي، چې د هغې له امله مړ شي.

**دوهم: د پټاقیو په استعمال سره مسلمانان ویرول کیږي او د مسلمانانو د نفسیاتي او ذهني مریضتیا لامل ګرځي.**

د پټاقیو د استعمال له امله د مسلمانانو ویرول کیږي او د هغوی مشاعر مجروح کیږي او په لویانو او ماشومانو کې د ذهني او نفسیاتي مریضتیا سبب ګرځي. د همدې وجې نه په حدیث شریف کې راځي چې ملائکې پر هغه چا لعنت وایي چې څوک بل مسلمان ویروي.

عَنِ ابْنِ سِيرِينَ سَمِعْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ يَقُولُ قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ -صلى الله عليه وسلم- « مَنْ أَشَارَ إِلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ فَإِنَّ الْمَلاَئِكَةَ تَلْعَنُهُ حَتَّى وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ لأَبِيهِ وَأُمِّهِ ».(٥)

ژباړه: د محمد بن سیرین څخه روایت دی ، هغه وایي چې ما دابو هریره رضي الله عنه څخه اوریدلي دي چې هغه وویل چې ابو القاسم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې اشاره وکړي خپل ورور ته په اوسپنه باندې ، بیشکه ملائکې ورباندې لعنت وایي ولو که هغه د هغه د پلار او مور له طرفه وورو وي.

د ترمذي په روایت کې راځي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِحَدِيدَةٍ لَعَنَتْهُ الْمَلاَئِكَةُ».(٦)

ژباړه: چاچې اشاره وکړه خپل ورور(مسلمان) ته په اوسپنه باندې په ده لعنت وایې ملائکې.

په یو بل روایت کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لا يَحِلُّ لمسلم أن يُرَوِّعَ مُسْلِماً».(٧)

---

[۲] -البقرة:(۱۹۵)

[۳] - النساء:( ۲۹)

[٤] - المحرر الوجيز ـ موافق للمطبوع (۲/ ۵۲)

[٥] - صحيح مسلم (۸/ ۳۳)

[٦] - سنن الترمذي ت بشار (٤/ ۳۳)

[٧] - سنن أبي داود ت الأرنؤوط (۷/ ۳۵۲)

ژباړه: حلال نه دي هيڅ مسلمان ته چې وويروي بل مسلمان. د صحيح مسلم د حديث په شرح کې امام نووي داسې ليکي:

(فِيهِ تَأْكِيد حُرْمَة الْمُسْلِم ، وَالنَّهْي الشَّدِيد عَنْ تَرْوِيعه وَتَخْوِيفه وَالتَّعَرُّض لَهُ بِمَا قَدْ يُؤْذِيه ....، وَسَوَاء كَانَ هَذَا هَزْلًا وَلَعِبًا ، أَمْ لَا ؛ لِأَنَّ تَرْوِيع الْمُسْلِم حَرَام بِكُلِّ حَال ، وَلَعْن الْمَلَائِكَة لَهُ يَدُلّ عَلَى أَنَّهُ حَرَام).(٨)

ژباړه: په دې حديث کې دمسلمان د حرمت تأکيد دی او شديده نهی ده د مسلمان د ويرولو او ډارولو او هغه ته اذيت رسولو .... برابره خبره ده چې دا ويرول په ټوکه سره وي او يا په ټوکو کې وي او يا په بل ډول وي، ځکه د مسلمان ويرول په هرحالت کې حرام دي...او د ملائکو لعنت په ويروونکي باندې دلالت په دې کوي چې ويرول دمسلمان حرام دي.

د چاودېدونکو پټاقيو زيانونه يوازې په ظاهري ټپونو پورې محدود نه دي، بلکې د انسان پر ذهن، اعصابو او روان هم ناوړه اغېزې لري. مهم زيانونه يې دا دي:

**الف: وېره او رواني اضطراب.** د پټاقيو ناځاپي او ډېر لوړ غږ د ماشومانو، ښځو، سپين ږيرو او ناروغانو لپاره د سختې وېرې او اضطراب سبب ګرځي. ځينې ماشومان له دې وروسته د شپې له خوا وېرېږي او يوازې خوب نه شي کولای.

**ب:د اعصابو فشار:** پرله‌پسې لوړ او ناځاپي غږونه د انسان عصبي سيستم تر فشار لاندې راولي، چې د عصبانيت، بې‌قرارۍ او ذهني ستړيا لامل کېدای شي.

**جـ: د تمرکز ګډوډېدل:** د پټاقيو غږ د زده‌کوونکو، محصلينو او هغو کسانو تمرکز خرابوي چې مطالعه، عبادت يا فکري کار کوي.

**هـــ: د خوب ګډوډي:** د شـپې پټاقي د خلکو خوب خرابوي، او د خوب کموالی د حافظې، فکر، مزاج او ورځني فعاليت پر کيفيت منفي اغېز کوي.

**و- د رواني ناروغيو د نښو زياتوالی:** هغه کسان چې له اضطراب، ژور خپګان يا د صدمې له وروسته رواني اختلال سره مخ وي، د پټاقيو له غږونو څخه يې نښې زياتېدای شي او سخت رواني تکليف احساسوي.

**زـــ: پر ماشـومانو ناوړه اغېز:** ماشومان د لوړ غږ په وړاندې ډېر حساس وي. پټاقي په هغوی کې د ناامنۍ احساس، ژړا، سختې وېرې او حتی د اوږدمهاله رواني اغېزو سبب کېدای شي.

**حـــ: د تاوتريخوالي سره عادت:** که ماشومان او تنکي ځوانان د چاودنو او زورورو غږونو سره د لوبې په توګه عادت شي، د تاوتريخوالي او خطرناکو کارونو حساسيت يې کمېدای شي او د احتياط احساس يې زيانمنېږي.

همداوجه ده چې څوک په چا باندې تيزه چيغه وکړي او هغه شخص دده دچيغې له امله مړ شو، نو ديت ورباندې لازم شو.

علامه علاؤ الدين ابن عابدين ليکلي دي:(لو صاح عليه فجأة فمات منها تجب الدية).(٩)

ژباړه: که چيرې څوک په چا باندې ناڅاپه چيغه وباسي او هغه ددغې چيغې له امله مړ شو، نو ديت ورباندې واجب شو.

---

٨ - شرح النووي على مسلم (٨/ ٤٤٨)

٩ - تکملة حاشية رد المحتار (١/ ١٥٩)

د مسلمان ویرول کبیره گناه ده او په احادیثو کې یې په اړه سخت وعیدونه راغلي دي؛ آن تردې پورې چې مسلمان ته په سلاح باندې اشاره کولو څخه منع راغلې ده لکه چې وړاندې ذکر هم شو، همدا راز د مسلمان څخه امسا ، چپلکې او نور سامان په ټوکه او یا په رښتیا غائبولو څخه منع راغلې ده ، ځکه په دې کار سره مسلمان ته یو قسم تکلیف ، ویره او تشویش پیدا کیږي او هر هغه کار چې د مسلمان د تکلیفولو او ویرولو باعث گرځي هغه حرام دی.

په یو حدیث شریف کې راځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :«لاَ يَأْخُذْ أَحَدُكُمْ عَصَا أَخِيهِ لاَعِبًا أَوْ جَادًّا، فَمَنْ أَخَذَ عَصَا أَخِيهِ فَلْيَرُدَّهَا إِلَيْهِ».(١٠)

ترجمه: نه دې اخلي یو له ستاسې امسا د ورور خپل نه په ټوکه او نه په جدیت سره او چاچې واخیسته امسا د ورور خپل ، نو هغه دې ورته واپس کړي.

په یو بل روایت کې راځي.« لاَ تُرَوِّعُوا الْمُسْلِمَ فَإِنَّ رَوْعَةَ الْمُسْلِمِ ظُلْمٌ عَظِيمٌ».(١١)

ژباړه: مه ویروئ مسلمان ، بیشکه د مسلمان ویرول لوی ظلم دی.

په یو بل روایت کې راځي. عن أبي حسن - وكان عقبياً بدرياً - قال: كنا جلوساً مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فقام رجل ونسي نعليه فأخذهما رجل فوضعهما تحته فرجع الرجل فقال: نعلي. فقال القوم: ما رأيناهما،فقال: هو ذه؟ فقال: «فكيف بروعة المؤمن؟». فقال: يا رسول الله إنما صنعته لاعباً! فقال: «فكيف بروعة المؤمن؟». مرتين أو ثلاثاً.(١٢)

ژباړه: د حضرت ابو حسن رضی الله عنه څخه روایت دی –او دی د عقبې او بدري صحابي ؤ-هغه وایې چې مونږ ناست ؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ، نو یو سړی پاڅیده د خپل ځای څخه او د هغه څخه دواړه پڼې هیرې شوې، نو هغه دواړه پڼې یو سړي واخیستلې او دځان لاندې یې کیښودې ، هغه سړی راوگرځیدلو او وه یې ویلې چې هغه زما پڼې څه شوې؟ خلکو ورته وویل مونږ نه دي لیدلي. هغه سړي وویل : هغه دادي؟ (نبي علیه السلام وفرمایل) د مؤمن له ویرولو سره به څه وکړې؟ هغه سړي وویل: ای د الله رسوله! دا کار ما د ټوکې لپاره وکړ. نبي علیه السلام وفرمایل: د مؤمن د ویرولو سره به څه وکړې؟ دوه ځله یې دا خبره وکړه او یا درې ځله دا خبره وکړه.

په یو بل حدیث شریف کې راځي. عن عبد اللهِ بن عمرو، قال: قال رسولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: «مَنْ نَظَرَ إِلَى مُسْلِمٍ نَظْرَةً يُخِيفُهُ بِهَا فِي غَيْرِ حَقٍّ، أَخَافَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» .(١٣)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې وکتل یو مسلمان ته په داسې کتلو سره چې غرض یې د هغه ویرول ؤ په ناحقه سره ، وبه ویروي ده لره الله تعالی د قیامت په ورځ.

په یو بل روایت کې راځي. عن عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ أَخَافَ مُؤْمِنًا بِغَيْرِ حَقٍّ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ لاَ يُؤَمِّنَهُ مِنْ أَفْزَاعِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ».(١٤)

---

[10] - سنن الترمذي وقال : وقال حديث حسن غريب .ت بشار (٤/ ٣٢)

[11] - الترغيب والترهيب (٣/ ٣١٨)

[12] - مجمع الزوائد ومنبع الفوائد. محقق (٦/ ٢٧٤)

[13] -المعجم الكبير للطبراني (١٣/ ٣٢)

[14] - المعجم الأوسط (٣/ ٢٤)، الترغيب والترهيب (٣/ ٣١٩)

ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چاچې يو مؤمن وويرولو په ناحقه سره ، په الله تعالی دا حق دی(تفضلاً) چې ده ته امان ورنکړي د قيامت د ويرې څخه.

حافظ ابن حجر مکې هيثمي د مسلمان ويرول (۳۱۸) کبيره گناه گرځولې ده. او ليکلي يې دي چې د مسلمان ويرول کبيره گناه ده کله چې دی په دې پوهه وي چې دمسلمان ويرول د هغه بدن ته او يا عقل ته ضرر رسوي.(۱۵)

پورتنيو نصوصو ته په کتو سره څوک چې د پټاقيو استعمال کوي ، نو دا داسلامي نظام دنده ده چې عاملينو ته يې درنده او عبرتناکه سزا ورکړي.

**دريم: د پټاقيو په استعمال کې خلکو ته ضرر او اذيت رسول کيږي.**

د پټاقيو استعمال خلکو ته ضرر رسوي او د مسلمانانو د اذيت سبب گرځي او داسلام په مقدس دين کې ضرر او اذيت رسول جواز نلري.
د پټاقيو په استعمال سره د خلکو ارام گډوډوي، ناروغان، زاړه کسان او کوچني ماشومان ځوروي او حتی د حيواناتو د وېرېدو سبب هم گرځي.

څوک چې مســلمان تـه تکليف او ضرر رســوي، الله جـل جلالـه د هغوی په هکله فرمايلي دي:( وَالَّذِينَ يُؤْذُونَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ بِغَيْرِ مَا اكْتَسَبُوا فَقَدِ احْتَمَلُوا بُهْتَاناً وَإِثْماً مُبِيناً).(۱۶)
ترجمه:او هغه کسـان چې ايذاء رسـوي مؤمنانو سړيو ته او مؤمنانو ښځو ته (په اتهام) په غير د هغه کار چې کړی وي دوی (يعنې په نا کړي کار) پس په تحقيق باروي دوی پخپل ځان غټ دروغ او گناه ښکاره (چې د عقوبت موجب دی).
امام حسن بصري او امام قتاده رحمهما الله فرمايي:(إيّاکم وأذی المؤمن فإنّه حبيب ربّه ، أحبَّ الله فأحبّه ، وغضب لربّه فغضب الله له ، وإنَّ الله يحوطه ويؤذي من آذاه).(۱۷)
ژباړه: ځانونه وساتئ د مؤمن د اذيت څخه ، ځکه چې مؤمن د خپل رب حبيب دی ، دی د الله تعالی سره محبت کوي ، نو الله تعالی هم ورسره محبت کوي ، او د الله تعالی په لار کې په غضب کيږي ، نو الله تعالی هم دده په وجه په غضب کيږي او بيشـکه الله تعالی دده څخه حفاظت کوي او اذيت رسـوي هغه چاته چې څوک مؤمن ته اذيت رسـوي. په اسلام کې د ضرر رسول منع دي. عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه : أن رسول الله صلی الله عليه و سلم قال:«لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ».(۱۸)

ژباړه: د ابو سعيد خدری رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: نه ځان ته ضرر رسول روا دي او نه بل چاته.

په حديث شريف کې راځي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:«الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالْمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ».(۱۹)

[۱۵] - الزواجر عن اقتراف الكبائر (۲/ ۱۵۹)

[۱۶] -الاحزاب: (۵۸)

[۱۷] - الکشف والبيان؛ للنيشابوری ـ موافق للمطبوع (۸/ ۶۳)

[۱۸] - المستدرك (۲/ ۶۶)، سنن الدارقطني (٤/ ۲۲۷)، مسند أحمد (۵/ ۵۵)

[۱۹] - سنن الترمذي (۵/ ۱۷)

ژباړه: کامل مسلمان هغه دی چې په امن کې وي مسلمانان دده د ژبې (د ضرر ) څخه او دده د لاس(د ضرر ) څخه، او کامل مؤمن هغه دی چې ده لره امین وګڼي خلک د خپلو وینو او مالونو په هکله.

کوم کسان چې د پټاقیو د استعمال څخه تکلیف او ضررویني هغه اکثره ګاونډیان وي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ګاونډي د حقوقو په اړه فرمایلي دي:«مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلاَ يُؤْذِ جَارَهُ».[٢٠]

ژباړه: څوک چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان لري، خپل ګاونډی دې نه ځوروي.

د پټاقیو سخت غږونه د شپې د خلکو خوب خرابوي، ناروغان او زاړه کسان ځوروي او کوچني ماشومان وېروي.

**پنځم: په ځمکه کې فساد کول او د اورلګېدنې خطر.**

څوک چې د پټاقیو استعمال کوي داسې کسان په ځمکه کې فساد کوي؛ ځکه چې د پټاقیو د استعمال په وجه د اور لګیدو خطر زیاتیږي او ددې امکان شته چې د خلکو کورونه، فصلونه، دوکانونه، سرایونه او بازارونه اور واخلي.

د پټاقیو له امله کورونه، دوکانونه، موټرونه او فصلونه سوځېدلی شي، چې هم د ځان او هم د نورو د مال د تلف کېدو سبب ګرځي.

الله جل جلاله د فساد څخه منع کړی ده او فرمایي چې فساد د منافقینو او مستکبرینو خلکو خصلت دی. الله تعالی فرمایلي دي: (وَلاَ تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الأَرْضِ إِنَّ اللَّهَ لاَ يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ).[٢١]

ترحمه:او مه غواړه(ای قارونه!) فساد (په تکبر،ظلم او بغي سره) په ځمکه کې بېشکه چې الله محبت نه کوي فساد کوونکو سره.

**شپږم:د مال ضایع کول.**

د پټاقیو په استعمال کې د مال ضائع کول او بې ځایه مصرفول دي، چې دا کار په اسلام کې ممنوع دی.

هغه پیسې چې په څو ثانیو کې په پټاقیو سوځول کېږي، که د غریب، یتیم، مسجد، مدرسې او یا د کورنۍ د اړتیاوو لپاره ولګول شي، ډېر اجر او ګټه لري.

الله جل جلاله فرمایلي دي:(وَلَا تُبَذِّرْ تَبْذِيرًا * إِنَّ الْمُبَذِّرِينَ كَانُوا إِخْوَانَ الشَّيَاطِينِ).[٢٢]

ترجمه: او اسراف مه کوه ! په اسراف کولو سره بېشـــکه چې اسراف کوونکي دي دوی وروڼه د شـــیطانانو (یعنې په مثل د شیطانانو دي په شرارت او اتلاف کې) او دی شیطان رب خپل ته ډېر ناشکره.

**اقول قولي هذا، استغفر الله لي ولكم ولسائر المسلمين .**

**والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

---

[٢٠] - صحيح البخاري ت (١٥/ ٢٠٥)

[٢١] - القصص: (٧٧)

[٢٢] - الإسراء: ٢٦-٢٧)